د افغانستان اسلامی جمهوری دولت

دلوړو زده کړو وزارت

بُست پوهنتون

علمی معاونیت

د څیړنیز مرکز امریت

# د علمی څیړنی اخلاقی پالیسی

1. Introductionمقدمه :

د علمی څیړنی اخلاقی پالیسی د بست پوهنتون د ټولو پوهنځیو د استادانو د څیړنو د اصولو مراعت کولو پر بنسټ ترتیب سوی ده تر څو د پوهنتون استادان ددغو اصولو مطابق علمی څیړنی ترسره کړی او همدا راز په لوړه کچه په څیړنه کی اخلاقی معیارونه او د اصولو ساتنه وکړی. د څیړنې ترسره کول باید د اخلاق پالیسی او ټاکل سوی اصولو پر اساس ترسره کړی.

دا پالیسي عمومي اصول ټاکي او ددی تر څنګ د پوهنتون تګ لارې ته وده ورکوي.

څیړونکو باید د څیړنی اخلاق پالیسی وپیژني او ځان په پوه کړی او د څیړنی او کار کولو په ټولو برخو کی یا د څیړنی د ترسره کولو په جریان کی اخلاقی اصول مراعت کړی او هڅه دی وکړی چی هیچا ته زیان و نه رسول سی.

1.1 Summary لنډیز :

بست پوهنتون د څیړنې اخلاق پالیسی په اړه غوره عمل ته ژمن دی او ډاډ ورکوي چې
څیړنه په داسې ډول ترسره سی چې د خلکو وقار، حقوق او هوسایني ته درناوی ولري
د څیړنې اخلاق د پوهنتون لخوا جدي په پام کې نیول کیږي ترڅو برخه اخیستونکو ته خطرات را کم کړي.
دا پالیسي د ټولو اړوند قانون سره مطابقت لري، د بیلګې په توګه د بشري حقونو قانون 1998، د انګلستان
د معلوماتو ساتنې قانون 2018، او داسی نور.

تعریف 1.2 Definition :

د څیړنې اخلاق د انسانانو او حیواناتو د ساتنی څخه عبارت دی چی د څیړنی په پلان کولو، ترسره کولو او
راپور ورکولو په نتیجه کې زیان دوی ته و نه رسیږي.

1 Objectives and Principles او اصول موخی :

ددی پالیسی موخی، په صداقت سره د څیړنی په برخه کې عمل کول او غوره اړیکې زیاتول او همدارنګه
نوری اړتیاوی او اخلاقی مفکوری په پام کې نیولو سره مخته تلل دی او ددی تر څنګ د څیړنی د اخلاق
پالیسی ملاتړ لپاره یو منظم چوکاټ چمتو کول دی.

د څیړنی لپاره اړین اصول او اساسات په لاندی ډول سره دی :

- د زیان رسولو څخه ډډه کول.

- په څېړنه کې د برخه اخیستونکو رضایت او غوښتنه کول.

- راز او محرمیت ته درناوی کول.

- د څېړنې پایلې شریکول.

- کچیری خطر شتون لری، د هغه د کمولو لپاره کار کول او مخته تلل دی.

**2. Researcher Responsibilities د څېړونکی مسولیتونه :**

د اکاډمیک کارمندانو رول دا دی چې د څېړنې په برخه کې خپل مسولیت و پېژنی او ددی اړوند کړنو سره ځان اشنا کړی. دوی باید د اخلاقی پالیسی مطابق کړنلاره غوره کړی او مخته ولاړ سی. دا د ټولو څېړونکي مسؤلیت دی چې ددی پالیسی اطاعت وکړي.

کچیری زده کړیالان څېړنې ترسره کوی نو د څېړنې لارښود استاد مسولیت دی چی دوی ددی پالیسی په اړه خبر کړی. په هرحال زده کړیالان هم باید د اخلاقی اصولو مطابق څېړنې ترسره کړی.

**۳. د څېړنې په ټولو مرحلو کې د اخلاقي چلند لاندې اساسات :**

څېړونکي باید د څېړنې د دورې په ټولو مرحلو کې د لاندې اصولو ته په کتو سره مخته ولاړ سی چی دا مرحلی عبارت دی له، پلان مرحله، د تمویل لپاره غوښتنه کول، د څېړنې ترسره کول او وروستي مرحلې، لکه د څېړنې نشرول، خپرول او پایلی یې شریکول دی.

۱. څېړونکي باید په خپله څېړنه کې د خلکو او برخه اخیستونکو حقونو، کتو او وقار ته درناوی وکړي.

۲. څېړنه باید د اړوند قانون سره سم ترسره شي.

۳. په بشپړه توګه باید په څېړنه کې د ګډون کونکو رضایت ترلاسه شي او برخه اخیستونکي باید په داوطلبانه ډول برخه واخلي او همدا راز د دوی رضایت پرته له زور او څواک څخه وي.

۴. څېړونکي مکلف دي چې د امکان تر حده په خپل څېړنه کې د برخه اخیستونکو ساتنه وکړي او هڅه دې وکړي چې د څېړنې د پایلې په نتیجه کې زیان دوی ته و نه رسیږي.

۵. کوم معلومات چې د څېړنې د برخه اخیستونکو لخوا وړاندې سوي دي، باید د معلوماتو محرمیت په پام کې ونیسي او پدې کار سره د دوی درناوی وکړي.

۶. د څېړنې لپاره د معلوماتو راټول، اداره کول او ذخیره کول باید په ډیرې پاملرنې سره ترسره شي. د حساس، محرم او یا څواب ورکونکو شخصي ډاټا باید د نورو د لاسرسي څخه خوندي وساتل شي.

۷. د څېړنې ډیزاین باید په بشپړه توګه په صحي ډول ترسره سي او همدا رنګه کیفیت تضمین کړي تر څو احتمالي خطر یا زیان و نه رسوي.

۸. څېړنه باید د اکاډمیک او اخلاقي اصولو پر بنسټ ترسره سي چې په نتیجه کې یې ټولنې ته ګټه ورسیږي او دداسې کړنو څخه ډډه وکړي چې د خلکو د ناراضۍ او شخړو سبب کیږي.

۹. د ورته او عالي اخلاقي معیارونه مطابق باید څېړنه ترسره او پلې شي.

۱۰. څېړونکي باید په ټولو څېړنو کې دا اخلاقي پالیسي مراعت کړي.

۱۱. هغه څېړنې چې اخلاقي مسلې یا اندیښنې راپورته کوي، باید رد سي.

۱۲. څېړونکي مسؤلیت لري چې ځان ډاډ کړي چې کومه څېړنه یې پیل کړې ده د قانون او اخلاقي پالیسي مطابق مخته ولاړ سي.

د څېړنيز مرکز د علمی څېړنو اخلاقی پالیسی د څېړنیز مرکز/کمیټی د (۲۲ / ۰۸/ ۱۳۹۹ ) نیټی په ( ۳ )
نمبر پروتوکول غونډه کی تائید شو.

د څېړنيز مرکز د علمی څېړنو اخلاقی پالیسی د پوهنتون د علمی شورا د ( ۰۵ / ۰۹ / ۱۳۹۹ ) نیټی په
(۸۵) نمبر پروتوکول غونډه کی تائید شو.